Let's make this our healthiest generation ever — GENV

murdoch children's research institute

# GenV Parent/Guardian Information Statement
# د GenV والدین/سرپرست لپاره معلومات

## 1 . ولې GenV؟

GenV د ویکټوریا د نسل (Generation Victoria) مخفف دی چې د ایالت په سطحه د څیړنې پروژه ده. دا به د ټول نسل د صحت او روغتیا مکمل معلومات ورکوي.

د دوه کالو په جریان کښې، په ویکټوریا کې زیږیدلي ټول ماشومان، او مور او پلار یې د برخې اخیستو لپاره رابلل شوي دي. مونږ غواړو ټول ماشومان او ددوی میندې او پلرونه پدې کښې شامل کړو، پرته له دې چې دوی څوک دي او چیرته ژوند کوي. ستاسو د کورنۍ په ګډون هره کورنۍ مهمه ده.

GenV هغه معلومات چې تاسو یې ورکوئ د هغو معلوماتو سره یوځای کوي چې دمخه د نورو خدمتونو لخوا راټول شوي وي. پدې معنی چې دا ستاسې ډیر لږ وخت نیسي. راتلونکې څیړنې بیا د روغتیایي او سلامتي په اړه د پیچلو پوښتنو ځواب د نن ورځې په پرتله په ګړندیتوب موندلی شي.

مونږ هیله لرو چې GenV به د نن ورځې د ماشومانو او ددوی د والدینو د ستونزو په مخنیوی ، وړاندوینې او درملنې کې مرسته وکړي. مونږ غواړو د ټولو خلکو لپاره ستونزې لږ وي لکه د وخت څخه دمخه زیږون، حساسیت، او رواني ناروغۍ.

په GenV کې په ونډه اخیستو سره، تاسې کولای شئ د ټولو کورنیو لپاره د ښه راتلونکې یعنی اوس او سبا په جوړولو کې مرسته وکړئ.

## 2. په GenV کې د ونډې اخیستو بلنه

موږ تاسې او ستاسې ماشوم ته بلنه درکوو چې په GenV کې ونډه واخلئ. په GenV کې د برخه اخیستو لپاره ، تاسې باید د رضایت فورمه چې په پای کې ده لاسلیک کړئ. تاسې به د دې سند او د رضایت د فورمې کاپي د ساتلو لپاره ترلاسه کړئ، او دا به په www.genv.org.au کې هم شتون لري.

مخکې لدې چې تاسو پریکړه وکړئ، تاسو باید پوه شئ چې ولې GenV پیښیږي او پدې کې څه شامل دي. زمونږ هدف دا دی چې د GenV کارکوونکی ستاسې د ماشوم زیږیدو څخه وروسته ژر روغتون ته درشي - دوی به تاسو ته مخامخ د GenV په اړه ووایي. مهرباني وکړئ څومره چې وغواړئ پوښتنې وکړئ.

او همدارنګه تاسو کولای شئ د دې سند په لوستلو یا په www.genv.org.au کې د ویډیو په لیدو سره د GenV په اړه زده کړئ. او همدا راز تاسو کولای شئ زمونږ سره د بریښنالیک له لارې په genv@mcri.edu.au یا وړیا تلیفون 888 436 1800 (1800 GEN VVV) سره اړیکه ونیسئ. مونږ خوښ یو چې ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایو.

## 3. GenV څه شی دي؟

GenV په آسټرالیا کې د ماشومتوب ترټولو لویه څیړنیزه پروژه ده. دا د دې انځور کاږي چې ماشومان څرنګه لویږي او وده کوي، څرنګه خلک زړیږي، او روغتیا په نسلونو کې څرنګه بدلون مومي. دا تهداب رامینځته کوي ترڅو د څیړونکو، ټولنو او پالیسي جوړونکو سره مرسته وکړي ترڅو په ګډه روغتیا او هوساینې ته وده ورکړي. مونږ هیله لرو چې دا غوره او خوندي پاملرنې ته لار هواره کړي، او ځینې خورا مهمې پوښتنې ځواب کړي چې زمونږ ماشومان او والدین ورسره مخ دي. دوه کاله وروسته، مونږ به په ویکټوریا کې له ۱۶۰،۰۰۰ څخه ډیر ماشومان او د دوی والدین د GenV ته راوبولو.

که تاسو موافق یاست ، موږ ستاسې او ستاسې د ماشوم څخه ځینې معلومات او د لاړو نمونه راټولوو کله چې تاسې په GenV کې ونډه اخلئ، او بیا ځل چې کله ستاسې ماشوم را لویږي.

بیا ، ستاسو په اجازه سره ، موږ معلومات او نمونې اضافه کوو چې خدمات دمخه په نورمال تمرین کې راټول شوي. موږ دا معلومات په خوندي ډیټابیس کې ځای په ځای کوو چې په راتلونکې څیړنه کې ورځخه ګټه اخیستل کیدای شي. پایلې به یې په دې کې مرسته وکړي چې څرنګه موږ د مشکلاتو درملنه کوو، وړاندوینې کوو او د ستونزو مخنیوی کوو. دوی به د پالیسي جوړونکو سره د ویکټوریایي کورنیو د ملاتړ لپاره د ښو پریکړو په کولو کې هم مرسته وکړي.

د دې معنی دا ده چې GenV له تاسو څخه لږې هڅې غواړي، مګر د کورنیو لپاره معنی لرونکې بدلون رامینځته کوي. موږ هیله لرو د ډیری کلونو په اوږدو کې د کورنۍ روغتیا او هوساینې مطالعه کړو.

خورا ستړې پروژې لکه GenV دمخه په ټوله نړۍ کې د زرګو لویانو سره مرسته کوي. موږ هیله لرو چې GenV به د ویکټوریا د ماشومانو او ځوانانو لپاره دا ګټې رامینځته کړي.

## 4 . څوک GenV ترسره کوي؟

GenV د ملبورن د ماشومانو دکیمپس څخه رهبري کیږي (د مرډاک د ماشومانو د څیړنې انستیټیوټ، د Royal Children روغتون ، او د میلبورن پوهنتون، د Royal Children روغتون د بنسټ لخوا یې ملاتړ کیږي). ددې مالي ملاتړ د ویکټوریا د حکومت او د پاول رامسی د بنسټ لخوا ترسره کیږي. ددې ملاتړ ددې ادارو لخوا ترسره کیږي:

- ستاسې په سیمو کې زیږېنتونونه او د ماشومانو روغتونونه
- د ویکټوریا پوهنتونونه او د څیړنې انستیټیوتونه
- په ویکټوریا ، آسټرالیا او ټوله نړۍ کې مخکښ کارپوهان
- ځایي کورنۍ او ټولنې، چا چې د GenV په ډیزاین کولو کې مرسته کړې.

ساینسي رئیسه یې پروفیسره میلیسا ویک ده، د ماشومانو رنځپوه - چې د ماشومانو ډاکټره ده. تاسې کولای شئ چې د هغې او د پاتې ټیم په اړه ولولئ دلته.

## 5. تاسې ولې له موږ څخه غوښتنه کوئ چې په GenV کې ګډون وکړئ؟

د دوه کلونو په اوږدو کې، ټول ماشومان چې په ویکټوریا کې زیږیدلي، او د دوی میندې او پلرونو ته بلنه ورکړل شوې چې په GenV کې برخه واخلي. تاسې ته بلنه درکول کیږي ځکه چې ستاسې ماشوم پدې وخت کې په ویکټوریا کې زیږیدلی.

## 6. په GenV کې څه شامل دي؟

د GenV د ټیم غړی ستاسې د ماشوم د زیږیدو څخه وروسته ساسې سره لیدنه یا اړیکه نیسي - معمولا په روغتون کې. د GenV هدف دا دی چې د امکان تر حده آسانتیاوې د هغو خلکو لپاره چې پدې کې یوځای کیږي راولي. لیدنه شاوخوا ۱۵ - ۲۰ دقیقې وخت نیسي. موږ پروژه تشریح کوو، پوښتنه کوو چې آیا تاسو غواړئ له خپل ماشوم سره په کې برخه واخلئ، تاسو ته یوه لنډه نظر پوښتنه درکوو او د لعاب سواب او د کورنۍ نمونې کځوره وړاندې کوو. د دې هر یوه په اړه لا ډیر معلومات لاندې وګورئ. که امکان ولري، مونږ ستاسې د ماشوم پلار یا مور ته هم بلنه ورکوو. له دې وروسته، GenV به ستاسو سره معمولاً د بریښنالیک یا پیغام له لارې په اړیکه کې پاتې شي.

**په برخه اخیستو سره، تاسې موافق یاست چې GenV کولای شي چې:**

**(1) هغه معلومات او نمونې یوځای کړئ چې دمخه شتون لري. پدې کې شامل دي:**

- هغه معلومات چې خدمتونو دمخه ستاسې او ستاسې د ماشوم لپاره راټولوي، ستاسې د ماشوم د زیږیدنې څخه د مخه او په راتلونکې کې. پدې کې ستاسې او ستاسې د ماشوم د فزیکي او رواني روغتیا، تعلیمي او ټولنیزو اسنادو او خدمتونو څخه معلومات، او همدارنګه د زیږیدنې او مړینې معلومات شامل دي.GenV کولای شي دا ډول معلومات له دولتي څانګو، ښوونځیو او ورکتونونو ، او روغتونونو، ډاکټرانو او د نورو خدمتونو وړاندې کونکو څخه ترلاسه کړي.
- ستاسې په ګاونډ پورې اړوند معلومات، لکه د هوا ککړتیا او ستاسې کور ته نږدې د ماشومانو د پاملرنې خدمات.
- ستاسو د ماشوم زیږیدلو دمخه او په راتلونکې کې ستاسو یا ستاسو ماشوم څخه د روغتیا خدماتو لخوا راټول شوي نمونې. کله چې تاسو د وینې یا ادرار ازموینه یا د لاړو نمونه ولرئ، د نمونو پاتې شونې اکثراً د څو ورځو ، میاشتو یا کلونو لپاره ساتل کیږي. موږ کولی شو دوی GenV ته انتقال کړو او د دوی په احتیاط سره څارنه وکړو. نمونې بیا په څیړنه کې کارول کیدی شي ترڅو ډیری کورنیو ته ګټه ورسوي.

تاسو کولای شئ د هغه څه په اړه نور ولولئ چې موږ څه راټولوو، له چا څخه یې راټولوو، او څنګه مو دا په www.genv.org.au/for-parents کې څرنګه کارولي دي.

**(2) تاسو ته د کورنۍ نمونې د کڅوړې وړاندیز کوو.** که تاسو موافق یاست، تاسو کولی شئ یوه یا دواړي نمونې واخلئ، ترڅو موږ ته یې بېرته پوسټ کړئ. موږ به هغه زموږ د لیدنې یا اړیکې په پای کې تشریح کړو. په بسته کې شامل دي:

- د نپي سواب کڅوړه - تاسو له جن وي ( GenV) سره له یوځای کېدو وروسته سمدلاسه د خپل ماشوم له نپي څخه لږ اندازه مدفوع مواد واخلئ. د لیدنې یا اړیکې په پای کې به یې تشریح کړو چې څرنګه. نمونې د دې لپاره کارول کیدای شي ترڅو پوه شي چې کولمې څرنګه پر روغتیا اغیزه کوي. *د نپي سواب په اړه لا ډېر معلومات ولولئ دلته.*
- د مور د شېدو کڅوړه - که تاسو ماشوم ته د مور شیدې ورکوئ یا خپلې شیدې را وباسئ، تاسو له GenV سره تر یوځای کېدو سمدستي وروسته شاوخوا یوه قاشقه شیدې راټولوئ. دا د ماشوم او میندو روغتیا او تغذیه کې د څېړنې ملاتړ کوي. *د مور د شیدو نمونې په اړه نور معلومات ولولئ دلته.*

**(3) وخت په وخت له تاسې سره لنډ تماس نیسو ترڅو ستاسې او ستاسې د ماشوم روغتیا، وده او هوساینه تعقیب کړو.** د مثال په توګه، موږ کیدای شي تاسې ته په کال کې څو ځله پیغام یا بریښنالیک درولیږو، یا مخامخ ستاسې د ماشوم ارزونه وکړو که چې ستاسې ماشوم لوی شي. تاسې کولای شئ په هغه وخت کې پریکړه وکړئ چې که غواړئ چې برخه پکښې واخلئ.

**(4) په خوندي ډول معلوماتو ته لاسرسی، ساتل او د نمونو کارول.** موږ هغه معلومات سره یوځای کوو چې تاسو GenV ته ورکړي او هغه چې د پورتنیو خدماتو څخه مو ترلاسه کړي دي. دا نمونې او معلومات به په راتلونکي کې له اخلاقي پلوه تصویب شوي څېړنو کې کارول کیدای شي چې د GenV قواعد پوره کوي *[د معلوماتو ذخیره کولو په اړه ۱۳ او ۱۴ برخې وګورئ].*

**(5) خدماتو ته وواياست چې تاسې او ستاسې ماشوم په GenV کې یاست.**

**تاسو دا هم غوره کولی شئ چې د دې لپاره خپل رضایت ورکړئ یا نه:**

**(6) ستاسې او ستاسې د ماشوم د غومبورې د ننه څخه د لاړو نمونه.** د لاړو نمونه کولای شي د ډول ډول بیولوژیکي څېړنو لپاره وکارول شي، د جینیتیکي څېړنې په ګډون. *د لاړو دنمونې اخیستنې په اړه نور ولولئ دلته.*

**(7) د جنیټیکي څېړنې لپاره د نمونو کارول (د مثال په توګه د لاړو نمونه او یا د نوي زیږیدلي ماشوم د سکرینینګ (معاینې) کارت)، پدې اړه نور معلومات زده کړئ چې څرنګه جینونه د نورو فاکتورونو سره متقابل عمل کوي ترڅو په روغتیا او وده اغیزه وکړي.** دا کیدای شي د څېړونکو سره د نویو پوښتنو په ځواب کې مرسته وکړي، د مثال په توګه څرنګه مرضونه او د خطر عوامل له والدینو څخه ماشومانو ته لیږدول کیږي. په راتلونکي کې، نوې ټیکنالوژۍ کیدای شي د نورو ډولونو معاینو ته لاره هواره کړي. *د جینونو په اړه نور ولولئ دلته.*

### *کوم ډول معلوماتو ته به GenV زما په اجازه لاسرسی ولري؟*

ځینې مثالونه دا دي:

- فزیکي او رواني روغتیا: د مثال په توګه میډیکیر (Medicare)، د روغتون ریکارډونه، د ډیجیټل سکینونو کاپي لکه الټراساؤنډونه، ستاسو د امیندوارۍ په اړه راټول شوي معلومات
- ښوونه: د مثال په توګه په ښوونځي کې د ملي سواد او شمیر د زده کړې ارزونه ، که ستاسو ماشوم برخه واخلي
- ټولنیز: د مثال په توګه معلولیت ، د ماشوم پاملرنې ملاتړ/هوساینه ، کور ، عدالت
- ستاسو د ګاونډیو په اړه عمومي معلومات: د مثال په توګه د ماشومانو د پاملرنې ځایونه ، د هوا ککړتیا.

*د GenV د معلوماتو د سرچینو په اړه نور ولولئ دلته او هغه سرچینې وګورئ چې موږه هرګال په www.genv.org.au لاسرسی ورته کوو.*

### *کوم ډول معمول نمونې به GenV زما په اجازه لاسرسی ولري؟*

نمونې پکې شاملې دي:

- د وینې سکرینینګ ازموینه چې تاسو کیدای شي د امیندوارۍ شاوخوا 10-12 اونیو کې درلوده - د ځینې شرایطو لپاره ستاسو ماشوم معاینه کړئ. د 10 اونۍ سکرین په اړه نور ولولئ دلته.
- ستاسو د نوي زیږیدلي ماشوم د معاینې یا سکرینینګ کارت څخه د وینې نمونه (د پوندې څخه وینه) - د نادرو شرایطو معاینه کول چې درملنه یې کیدای شي. که تاسو په آسټرالیا کې زیږیدلي یاست، موږ هم غواړو ستاسو خپل کارت تر لاسه کړئ که کوم یو ولري. د نوي زیږیدلي ماشوم د معاینې یا سکرینینګ کارت په اړه نور ولولئ دلته.

- نورې په وار وار نمونې چې تاسو کیدای شي د امیندوارۍ پرمهال ورکړې وي، او هغه نمونې چې تاسې یا ستاسې ماشوم پې وړاندې کولی شئ.

*د GenV معمول نمونو په اړه نور ولولئ [دلته](#) او هغه نمونې وګورئ چې موږ یې هرکال په [www.genv.org.au](http://www.genv.org.au) کې لاسرسی کوو.*

### *کله چې GenV زما سره اړیکه ونیسي نو څه به کیږي؟*

په کال کې شاوخوا څلور ځله، GenV به تاسو ته بلنه درکړي چې تاسې او ستاسې ماشوم څرنګه پرمخ ځئ پدې اړه تازه معلومات ورکړئ. اړیکې کیدای شي د ۳ څخه تر ۲۰ دقیقو پورې وخت ونیسي. تاسو هرکله پریکړه کوئ چې آیا بشپړ کول یې غواړئ. اړیکې کیدای شي پدې کې شامل وي:

- لنډې سروې ګانې او تازه معلومات چې تاسو یې ډکوئ.
- د روغتیا او ودې اندازه کول. پدې کې هغه څه لکه د حافظې لوبې، په لویو ماشومانو کې د وینا، او د زړه ضربان ګڼون لري. د مثال په توګه، تاسې کیدای شي د خپل ماشوم لنډه ویډیو جوړه کړئ، یا تاسو یا ستاسې ماشوم کیدای شي ستاسې په بریښنایي وسیله لکه ستاسې ټیلیفون کې لوبه وکړي. دوی د امکان تر حده لنډ او ساتیري دي. د GenV د اندازه کولو په اړه نور ولولئ [دلته](#).
- له GenV څخه خبرونه او تازه معلومات. پدې کې د GenV سره د کارکولو په مطالعاتو کې بلنه شاملیدای شي.

*د GenV سره د کارکولو د مطالعاتو په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

### *کله چې ماشومان لوی وي د GenV ارزونې به څرنګه کیږي؟*

د روغتیا او ودې ځینې اندازه کول یوازې مخامخ ترسره کیدای شي. موږ هیله لرو د ټولو GenV ماشومانو څخه لیدنه وکړو کله چې دوی لوی شي، د مثال په توګه کله چې دوی ښوونځي ته تلل پیل کړي. موږ تر دې دمه دا لیدنې نه دي ډیزاین کړي. تاسو کولای شئ په هغه وخت کې پریکړه وکړئ چې برخه اخلئ او که نه. موږ به تاسو ښه خبر وساتو، تر هغه چې موږ له تاسې سره اړیکه نیولای شو. *د GenV لیدنو په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

### *GenV ولې خدماتو ته دا وایي چې زما ماشوم او زه په GenV کې یو؟*

نور خدمات کدای شي له GenV سره ستاسې د معمولو لیدنو په لړ کې د لنډو سروې ګانو یا ارزونو په اړه د GenV سره مرسته وکړي. د مثال په توګه، ستاسې د ماشوم نرس کیدای شي ستاسې ماشوم ته د لید د بلې ازموینې وړاندیز وکړي، تاسو ته نظریات درکړي، او پایله یې ثبت کړي. ځینې وختونه تاسو کیدای شي له یو ځای څخه بل ځای ته لاړ شئ یا ستاسې د اړیکې معلومات بدل شي. خدمات کیدای شي د دې ورتیا ولري چې GenV ستاسې د اړیکې د نویو معلوماتو سره تازه کړي، مګر دا چې موږ پوه شو چې تاسې بیرته وتل غواړئ. په خدماتو کې کیدای شي د روغتیا او تعلیم د خدماتو وړاندې کونکي شامل وي لکه ستاسو د میندو او ماشومانو د روغتیا نرس، ستاسو ډاکټر، روغتونونه، میډیکییر (Medicare)، سینټر لینک، وړکتونونه، یا ښوونځي.

موږ ستاسې د ځیرنې معلومات ددوی سره نه شریکوو. *د GenV سره هغه خدمات چې کارکوي د هغوی په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

## 7. په GenV کې د ګډون ګټې څه دي؟

GenV کیدای شي تاسو یا ستاسو ماشوم ته مستقیمه ګټه ورکړي یا نه.

موږ کولی شو ځای په ځای کله چې تاسو یا ستاسو ماشوم سروې یا ارزونه بشپړه کړئ نظر درکړو. تاسو کیدای شي دا ګټور وموئ (۱۱ برخه وګورئ).

د وخت په تیریدو سره ، GenV به په عمومي ډول په ماشومانو او والدینو پورې اړوندو ډیرې مسئلو په هکله راپور ورکړي. موږ هیله لرو چې GenV به د ډیرې ماشومانو او والدینو ژوند په ښه کولو کې مرسته وکړي. موږ به دا ټولیزې پایلې له تاسو سره شریکې کړو، او هیله لرو چې دا ستاسو لپاره ګټور وي.

## 8. موږ څنګه په GenV کې ګډون وکړو؟

تاسو د رضایت فورمه لاسلیک کوئ، او مونږ تاسې ته یوه کاپي د ساتلو لپاره درکوو. تاسې کولای شئ په ټوله GenV یا د GenV په ځینو برخو کې ونډه واخلئ. که چیرې امکان ولري ، موږ هیله لرو دواړه والدین به برخه پکښې واخلي. تاسو د خپل ځان لپاره خوښه ورکړئ. د والدینو څخه یوکس/سرپرست ستاسې د ماشوم لپاره خوښه یا رضایت باید ورکړي.

## 9. آیا مونږ باید پدې کښې ونډه واخلو؟

نه. دا په تاسې پورې اړه لري. هرڅه چې تاسو پریکړه کوئ، دا به ستاسې یا ستاسې ماشوم ته چې کومه پاملرنه کیږي په هغې به اغیزه ونلري. په هرصورت، هرڅومره خلک چې برخه اخلي، GenV په همغه کچه ډیر ارزښتناک کیږي.

## 10. آیا زه کولای شم وروسته زه خپله پریکړه بدله کړم؟

هو ، تاسې کولای شئ هر وخت خپله پریکړه بدله کړئ. مونږ ته زنګ ووهئ یا بریښنالیک راولیږئ یا د GenV [ویب پاڼ](#) ته لاړ شئ. تاسو مجبور نه یاست مونږ ته د خپلې پریکړې دلیل ووایاست.

- که تاسې همدا اوس موافق یاست، تاسې کولای شئ وروسته له دې څخه ووزئ. *د وتلو په اړه نور ولولئ [دلته](#).*
- که ستاسې اوس خوښه نه وي، تاسو کولی شئ وروسته په GenV کې ګډون وکړئ. په هرصورت، GenV به ستاسې او ستاسې د ماشوم څخه دمخه اخیستل شوي معلومات له لاسه ورکړي. *په GenV کې وروسته د ګډون لپاره نور ولولئ [دلته](#).*
- کله چې ستاسې ماشوم لوېږي (شاوخوا له ۱۴ څخه تر ۱۸ کلونو پورې)، دوی به فرصت ولري چې د لویانو په توګه برخه اخیستو ته دوام ورکړي. *د GenV سره ادامه ورکولو په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

## 11. ایا GenV به زمونږ د روغتیا په هکله نظریات ورکړي؟

کله چې تاسې یا ستاسې ماشوم ارزونې بشپړې کړي ، GenV کولای شي تاسو ته ځای په ځای د پایلو په هکله نظر درکړي چې کیدای شي ستاسې لپاره ګټور وي. دا لنډ راپورونه ممکن وړاندیز وکړي چې شیان په لاره دي ، یا که څوک اندیښنې ولري تاسو ممکن د مشورې لپاره وګورئ. تاسې کولای شئ دا راپورونه له نورو سره شریک کړئ ، لکه ستاسې ډاکټر.

د ځای په ځای نظر سربیره ، موږ په انفرادي ډول نوي معلومات نه چک کوو چې وروسته ستاسې یا ستاسې د ماشوم د زیرمه شوي معلوماتو یا نمونو څخه مینځ ته راغلي وي. دا پدې معنی ده چې GenV دا وروستۍ پایلې تاسې ته نه وړاندې کوي.

دا ځکه چې:

- د څیړنې ازموینې معمولاً د درملنې لپاره ندي ډیزاین شوي - ډاکټران د ناروغانو د درملنې لپاره نورې ازموینې کاروي
- څیړنه د افرادو د ازموینې پایلې نه ګوري - یوازې د ډلو پایلو ته ګوري
- کلونه وروسته ترسره شوي ازموینې کیدای شي نورې مهمې یا سمې نه وي.

GenV کیدای شي تاسې ته فرصت درکړي چې په راتلونکې کې اخلاقي تصویب شوي مطالعاتو کې برخه واخلئ هغه چې زمونږ سره کار کوي. دا امکان شته چې دوی کیدای شي اضافي نظرونه ورکړي. تاسو تل کولی شئ انتخاب کړئ چې برخه اخلئ او کنه.

موږ د GenV څیړونکي هڅوو چې موندنې په پراخه کچه خپرې کړي - پدې توګه نوې پوهه په عمل کې پلي کیږي. GenV به په خپل ویب پاڼه کې لنډیزونه خپاره کړي. موږ هیله لرو چې دا د والدینو لپاره ګټور وي. یوازې د ډلې پایلې خپریږي - هیڅکله انفرادي پایلې نه خپریږي.

## 12. په GenV کې د ونډې اخیستو خطرونه کوم دي؟

په GenV کې ونډه اخیستل نباید چې په هغه پاملرنه او خدمات چې تاسې او یا ستاسې ماشوم یې ترلاسه کوي زیانمنه کړي او یا اغیزه وربانډې وکړي. GenV ستاسې د محرمیت د ساتلو لپاره سخت او خوندي سیستمونه لري. دا پدې معنی ده چې د معلوماتو محرمیت د سرغړونې خطر خورا ټیټ دی.

مونږ پوهیږو چې په GenV کې برخه اخیستل باور ته اړتیا لري. ستاسې په خیر د والدینو لخوا باور د ډیرې کشفونو لامل شوی چې نن ورځ د ماشومانو او لویانو سره مرسته کوي، لکه د ساري ناروغیو او سرطان په برخو کې. مونږ به ستاسې د باور په ځای کولو لپاره سخت کار وکړو.

## 13. GenV به زموږ د معلوماتو څرنګه ساتنه وکړي؟

زموږ د ډیټا یا اطلاعاتو سیسټمونه د GenV لپاره په خاصه توګه جوړ شوي دي. د غیر مجاز خلکو لپاره د GenV سیسټمونو ته ننوتل خورا سخت دی. دا د قانون خلاف هم دی. موږ ټول معلومات په خوندي ځای کې ذخیره کوو او منظمې امنیتي ازموینې ترسره کوو. موږ د ډیټا څیړونکو د کارونې څخه د پیژندنې معلومات (لکه د نومونو) لرې کوو او په دې سره د محرمیت ساتنه هم کوو.

موږ ستاسې شخصي معلومات (لکه ستاسو نوم او د اړیکې نیولو معلومات) د GenV د چلولو لپاره کاروو. په دې توګه مونږ له تاسو سره په اړیکه کې یو. او همدارنګه، کله چې مونږ نورې اطلاعاتي برخې یا ډیټاسیټونه را خلاصوو (۶ برخه)، دا معلومات د دې لپاره کارول کیږي چې ډاډ ترلاسه کړو چې مونږ د مطلوب کس سره په اړیکه کې یو. زموږ د محرمیت راټولولو خبرتیا او د MCRI محرمیت پالیسي د لیدو لپاره له www.genv.org.au/privacy څخه لیدنه وکړئ. د محرمیت د قانون په اساس تاسې حق لرئ هغه شخصي معلوماتو ته لاسرسی وموموئ او سم پې کړئ چې مونږ ستاسې او ستاسې د ماشوم په اړه ذخیره کوو. تاسو دا د GenV سره په اړیکه نیولو سره ترسره کولی شئ.

پرته له دې چې تاسو موږ ته وواياست چې له مینځه یې یوسئ ، موږ به ستاسو او ستاسو د ماشوم معلومات د تل لپاره وساتو. دا پدې معنی ده چې GenV کولای شي د ډیرو کلونو لپاره د نویو کشفیاتو ملاتړ وکړي.

د مرډاک د ماشومانو د څیړنې انسټیټیوټ د آسټرلیا او د ویکټوریا د محرمیت د قوانینو څخه پیروي کوي. دا د خپل ډیټا امنیت، د معلوماتي ټیکنالوژۍ سیسټمونه، پروسې او پالیسۍ په منظم ډول تازه کوي. د څیړنیزو اهدافو لپاره، د GenV د څیړنې ډیټا کیدای شي د نورو مجازو ادارو لخوا ددوی په سیسټمونو کې هم ځای پر ځای شي. دوی د امنیت او محرمیت ورته کچه لري.

*د GenV د ډیټا د امنیت په اړه نور [دلته](#) او د خپلو شخصي معلوماتو د اداره کولو په اړه [دلته](#) ولولئ.*

GenV د حٔیني معلوماتو لپاره اضافي احتیاطي تدابیر نیسي، لکه موقعیتونه، عکسونه یا جنیټیک معلومات چې کیدای شي دیو دې په اړه معلومات ورکړي چې چا په GenV برخه اخیستې ده. *د GenV د احتیاطاتي تدابیرو په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

## 14. څیړونکي زموږ اطلاعات یا ډیټا څرنګه کاروي؟

د GenV ډیټا د ماشومانو او لویانو د روغتیا ، پراختیا یا هوساینې د ښه کولو لپاره د څیړنې لپاره کارېدای شي. دا باید د اخلاقي تصویب تر پوښښ لاندې راشي. د وخت په تیریدو سره ، څیړونکي به نویو او مهمو پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره ډیری مختلف میتودونه وکاروي. له همدې امله ، ستاسو د معلوماتو ارزښت به د ډیرو کلونو په درشل کې لا زیات شي. د GenV ټول معلومات یا ډیټا به په محرم ډول کارول کیږي. GenV د معلوماتو د خوندیتوب په اړه سخت مقررات لري او دا چې څوک کولای شي د دوی ډیټا وکاروي.

د کارولو لپاره تصویب پر دې اساس دی:

- د څیړنې هدف روغتیا ، ودې یا هوساینې ته وده ورکول دي
- د معلوماتو وړاندیز شوي کارول اخلاقي تصویب لري
- GenV د غوښتونکي او ادارې یا اورګان خوندیتوب او وړتیاوې ارزوي
- نمونې یا ډیټا پرته د پیژندنې د معلوماتو څخه کارول کیږي - نو د ډیټا کاروونکي نه پوهیږي چې دا ډیټا یا معلومات ستاسې دي.
- کارونکي د GenV د کارولو د شرایطو سره موافق دي.

*د تصویب په اړه نور ولولئ [دلته](#).*

د GenV ټیم هم ستاسو ډېټا کاروي ترڅو د GenV پرمختګ او کیفیت چیک یا وارزوي او د ډېټاسېټونو ازموینه وکړي. ځینې معلومات او نمونې یوازې په آسټرالیا او ټوله نړۍ کې په ځانګړي لابراتوارونو کې تحلیل کیدای شي. دا په څېړنه کې عام دود دی او د مهمو کشفونو لامل شوی. ځینې وختونه د دې کارول د آسټرالیا څخه په بهر هیوادونو کې د قوانینو تر پوښښ لاندې راځي. دا د سختو لارښوونو په رڼا کې ترسره کیږي، او د پورته په څیر د تصویب لپاره ورته مقررات.

کله چې څیرونکي په ډیټا یا معلوماتو کار کوي ، دوی ډیری وختونه د لابراتوار د ازموینو څخه نوي معلومات پیدا کوي ، یا په نوي لارو د معلوماتو په یوځای کولو سره. دا بیرته په GenV کې اضافه کیږي. دا د روغتیا د ښه کولو لپاره ډیر فرصتونه رامینځته کوي.

سوداګریز شرکتونه کولی شي د روغتیا ، ودې یا هوساینې د ښه کولو لپاره د څیړنې لپاره د GenV ډیټا کارولو لپاره غوښتنه وکړي. دوی باید د ورته تصویب مقررات پوره کړي.

د GenV ځینې برخه اخیستونکي کیدای شي د نوي میتودونو د ازمویلو څیړنېزو آزموینو کې برخه واخلي. ټولې ازموینې اخلاقي تصویب ته اړتیا لري. چاته چې د نوي طریقې وړاندیز کیږي هغه معمولاً په تصادفي ډول غوره کیږي، لکه د سکې اچول. په ځینې ازموینو کې ، یوازې هغه خلکو ته چې د نوي طریقې وړاندیز شوی وي د برخه اخیستلو په اړه ورسره اړیکه نیول کیږي. د GenV ډیټا د هغه خلکو د پایلو د پرتله کولو لپاره کارول کیدای شي چاته چې د نوي طریقې وړاندیز شوی وي او چاته چې نه وي شوی. د GenV برخه اخیستونکي کیدای شي د ځانګړو مسئلو په اړه په مطالعاتو یا راجسترونو کې هم برخه واخلي لکه د سر ټپونه یا د اوریدو له لاسه ورکول. ازموینې یا مطالعات کیدای شي ستاسې د خوښې یا رضایت غوښتنه وکړي ترڅو د اخلاقو په تصویب سره د GenV سره معلومات شریک کړي. موږ د دې ملاتړ کوو.

## 15. نوري پوښتنې؟ کومه اندیښنه؟

د GenV ویب پاڼه د ډیری پوښتنو ځوابونه لري. دا د دې معلوماتو بیان هم لري.

د GenV د غړي سره د اړیکې لپاره، مهرباني وکړئ 1800 436 888 شمېرې ته زنګ ووهئ ، genv@mcri.edu.au ته بریښنالیک واستوئ او یا زموږ سره د ویب پاڼې له لارې اړیکه ونیسئ. او همدا راز تاسې کولای شئ د پروژې څخه بهر د کوم خپلواک کس سره د اندیښنو یا شکایتونو په اړه وغږیږئ، دا چې دا څرنګه ترسره کیږي، یا د برخه اخیستونکي په توګه ستاسې یا ستاسې د ماشوم حقوق څه دي. مهرباني وکړئ د میلبورن شاهي ماشومانو روغتون کې د څیړنې پراختیا او اخلاقو رییس سره په 5044 9345 (03) یا rch.ethics@rch.org.au اړیکه ونیسئ.

**په GenV کې د برخې اخیستنې په پام کې نیولو څخه مننه.**
**موږ هیله لرو چې تاسې پدې سفر کې د GenV سره یوځای شئ.**